



# ارواښاد حاجي عبدالهاشم دولت زی زموږ دهیواد ولسي شاعر، روحاني، ملي او قومي شخصیت

پوهاند ډاکتر مجاور احمد زیار، په خپل یوه نوي اثر( پښتو بدلمیچ یا پښتو شعر څنګه جوړیږي)کې داسې لیکي: (( له اوږدو آزمېښو، څېړنواو پلټنو څخه وروسته دې پایلې ته رسیدلی یم، چې د هرې ژبې او بیا پښتو شعر پوهه او غږپوهه سره نه شلیدونکي تړاو

لري او له همدې کبله پرې دا دومره مهال د دوديزو پوهانو له خوا دعربي عروضي سېستم د راتپلو هڅې ناکامه شوې دي.))

د زيار صاحب له خبرې دا راڅرګندېږي چې په رښتيا هم پښتو ژبه د شعر ژبه ده، او هر با استعداده لوستی پښتون کولای شي، د خپلې شتمنې (و)ګړنۍ (فولکلوريکې) او بيا ليکلې پانګې په لاروۍ شعر و شاعري وکړي. همدا لامل دی چې په پښتو کې تر بل هر ناپېيلي ځېل (ژانر) څخه پېيلی دا ډېر دود لري او شاعران پکې دآسمان د ستورو په شان بې شماره دي. د پښتو شعر وادب لکه د نړۍ د نورو هغو په څېر پر دوه برخو ويشل شوې دی :

١- (و)ګړنۍ يا ولسي – شفاهي (فلکلوريک) ادب.

٢- ليکلي(تحريري) ادب.

زموږ ادبيات زياتره شعري ادبيات دي اوزموږ فرهنګي ميراث تر هر څه زيات پرشعر ولاړ دی. په پښتو ادب کې پخواني (کلاسيک)او اوسني(معاصر) شاعران دپښتوادب بلينډه وال (مشعلداران) بلل کېږي. هغوی خپل شعرونه له خپل ذوق، شوق، مينې، عاطفي او انساني احساساتواو د مضمون محتوا او فورم له مخې په ډيرښکلي خيالونواوانځورونو کې په داسې زړه پوري او زړه راکښونکي ډول راپنځولي چې زموږ د هيواد د تاريخ په اوږدو کې د خلکو په راوينولواو د دوی د احساساتو په راپارولو کې يې اغيزمن نقش او رول لوبولی دی.

زموږ د وياړلي تاريخ په هرپړاوکي تلپاتې ځلاندې او وياړلې څېرې، نوميالي او مېړني، ملي، سياسي او ټولنيز اتلان، د پاک او سپيڅلي قلم خاوندان، پوهان، څېړنوال او ليکوال د پوهې او فرهنګ ډګر ته راوتلي او بيلابيل پېرونه او پړاوونه يې رامنځته کړي او دوياړ او افتخاراتو نه ډک تاريخ لري. همدارنګه دپښتو ادب تاريخ د يوه ټاکلي پړاو نه تير شوی اوپه بيلابيلو پړاوونو ويشل شوې دی، چې هرپېر يې خپلې ځانګړنې لري.

د دغو درنو ملي، علمي، ادبي، فرهنګي او فرهنګپالو ستو نمانځنه او د دوی پر آثارو څېړنه او پلټنه هغه څه دي چې زموږ اوسني او راتلونکي پښتونه نسلونه به پرې وياړي او ګټه به ځنې اخلي.

څه مهال مخکې (د هيلو بهير) نومې يوه شعري ټولګه زما ګران دوست ښاغلي عبدالقدير دولت زي، چې د ادب او فرهنګ سره ځانګړې مينه لري ماته ډالۍ کړه. د دغې ټولګې له لوستلو وروسته، زه دې ته وهڅيدم چې د دې اثر او د دغې شعري ټولګې د ليکوال په اړه، چې ارواښاد حاجي عبدالهاشم دولت زی دی، يو څو کرښې وليکم.

ښاغلي استاد حبيب الله رفيع، چې زموږ د هيواد يو نامتو، وتلې، پياوړې او مخکښ شاعر او ليکوال دی، په خپله يوه ليکنه کې د حاجي عبدالهاشم دولت زي په اړه داسې کښلي دي:

((... زما په همدې لومړي ليدو کتوکې سترګې پرې خوږې شوې، ځکه ديوه ټيپيك پښتون ځېره يې درلوده، وريښمينه لونګۍ يې پرسر اوملي جامې يې پر تن وې ،ګردی نوراني مخ او ورسره پاکه سپينه ږيره، پستې نرمې اوشمېرلې خبرې، په خبرو کې يې مالګه، ورسره ظرافت او لطيف لطافت او ورسره مله نرۍ موسکا.

څو ورځې وروسته له پسرلي صاحب سره افغان ادبي بهير ته راغی، دمېلمه پرځوکۍ کښېنول شو او دشعر له اورولو سره يې څرګنده شوه چې وکيل صاحب شاعر هم دی اوپه لومړۍ ناسته کې چې سره خواږه شوي وو يو علت يې هم زموږ تر منځ دا ادبي تړون او ادبي پيوستون و.

تردې ورځې وروسته وکيل صاحب زموږ دادبي بهير دايمي ملګری شو، د بهير له وړو او زړو سره صميمي شو، له ټولوسره به يې په موسکا ډکه خوله خبرې کولې، مينه به يې کوله اوپه ډېر لږ وخت کې د ده او د بهير د ملګرو ترمنځ د بېګانګۍ ټولې پولې ړنګې شوې او د خپل خاص درنښت او متانت په ساتلوسره له وړوسره ووړ او له زړو سره زوړ او د زړه له جونګړې يې د ټولو د مينې مېنه وه:

د سترګو تور د زړه ملهمه راشه

د زړګي کورته مې بې غمه راشه

لارې خو ډېرې دي چې ته پرې راشې

د ګړو لارو اوس په سمه راشه

پل مې دزړه په کورکې کېږده راځه

راشه زړور په زړوردمه راشه

د زړه په مينه به دې ښه وپالم

زما په خواته ځوقدمه راشه

ځنګ ته مې کښېنه چې ديدن دې وکړم

د زړه جونګړې ته مې شمه راشه

کلونه تېر شوه په هاشم سترې تېر

ته يې د زړه د پاره دمه راشه !))

ارواښاد حاجي عبدالهاشم دولت زی د خدای ښنلي حاجي سلطان محمد خان دولت زي زوی وو، چې د (۱۳۱۰) لمريز کال د  وري مياشتې پر شپږمه د سمنگانو ولايت مرکز ايبکو د زنډې کوټ کلي په يوه درنه، شتمنه او دينپاله کورنی کې زيږيدلی دی. وتلي  او پياوړي ليکوال او څيرنوال، شهرت ننګيال په خپله يوه ليکنه کې د ارواښاد عبدالهاشم د اند و ژوند په اړه داسې ليکلي:

(... حاجي صاحب په يوه مخوره او شتمنه کورنی کې سترگې غړولي، خو مال او جايداد په دوی کې د کبر او لويي تلوسه نه ده پارولې ؛ دا هر څه يې د الله تعالي امانت گڼلي او په دغه امانت کې يې له خيانت نه ځان تر پايه ساتلی دی، مانا دا چې دوی دغه مال او دولت په بدمستيو او عياشيو نه دی لگولی بلکې د خدای د مخلوق په خير او خدمت کې يې لګولی. درحمان بابا په وينا

د دلبرو صدقې لره يې غواړم

هسې نه چې په دنيا پسې زهير يم

حاجي صاحب د وقار او درنښت سمبول او دميني ، الفت او صداقت پرانيستی کتاب دی چې په هره پاڼه او کرښه يې د ده د درانه شخصيت خواږه ځکلی شي :

په سترگو پوري کړه رانجه دميني

هرچاته گوره په کاته دميني

هاشم به هيڅکله دريغ نه کړي ترې سر

که يې حلال کړي په چاړه دميني....)

ارواښاد حاجي عبدالهاشم لومړی زده کړې د ايبکو د ښار په لومړني ښوونځي کې سرته رسولي، ديني، پښتواودري ليک لوست يې د خپل کلي د يو شمير دينپوهانو او ناضمانو په مرسته ترسره کړي دي او تر ځنګ يې علمي او ادبي کتابونه هم لوستلي دي.  دکورنی مشران يې د خپلې سيمې خانان او مشران وو، او د سوداگری، ځمکوالۍ اومالداری چارې يې پر مخ بيولې. ده له خپل پلار سره په دې لاره کې هم مرسته کوله، له همدې کبله ده ونشو کولای خپلې نورې زده کړې پر مخ يوسي. ده دخپل پلار او دکورنی د نورومشرانو په لارښوونه په هيواد کې دننه او بهر په پرله پسې توگه سفرونه کول، چې په دغو سفرونو کې ده د خپلو مشرانو د ازمېښتو په رڼا کې نه يوازې مادي بلکې معنوي

ګټې او تجربې هم تر لاسه کړې. ده له ځوانۍ راهیسې له شعر او ادب سره ځانګړې مینه لرله اوپه دې ډول یې شعر ویلو ته مخه شوه . پر (۱۳۲۵) لمریز کال د ده لومړی شعر د مزارشریف ښار په ((بیدار)) ورځپاڼه کې خپور شوی دی، چې څو بیتونه یې دا دي:

څوک مې چې غواړي ذلت

بربادوي مې عزت

هغه دښمن زما دی

که وروور په تن زما دی

حاجي صاحب عبداهاشم د خپل هیواد او هیوادوالو سره بې کچه مینه درلوده او د خپلو خلکو دسیمې په ملي مسایلو کې دیو خوږمن، ولسي او قومي مخور په توګه اغیزمن او ارزښتمن نقش او رول لوبولی دی.کله چې په هیواد کې د یوه ملي او سیاسي بدلون لپاره د نوي اساسي قانون اړتیا رامنځته شوه، د(۱۳۴۲) لمریز کال اړوندې جرګې ته غوره شوی اوګډون یې پکې کړی وو. وروسته بیا د ولسي جرګې په دیارلسمه دوره کې د سمنګان ولایت د ایبکو د خلکو له خوا د وکیل په توګه وټاکل شو، نو د ولس او سیمې د لا ښه ترا خدمت کابو(موقع) ترلاسه کړه. هسې یې خو همیشه د یو ملي، ټولنیزاو مخور مشر په توګه د سیمه یزو ستونزو او ناخوالو په اړه دجرګو او مرکو له لارې خلکو ته لارښووني کولې او د دوی په رسمي او غیر رسمي ټولنواو جرګو کې یې ورسره د یو اغیزمن ولسپال په توګه برخه اخیسته.

حاجي صاحب عبداهاشم دولت زی له دغو ټولو کړنو او کړو وړو سره سره د یوه خوږ ژبې ولسي شاعر او لیکوال په توګه هم خپلې ژبې او ولس ته پوره خدمت کړی او دپښتو ادب په ګلبڼ کې یې داسې رنګین ګلونه کرلي دي، چې دا بڼ به پرې د تل لپاره سمسور، ښکلی او ښیرازه وي.

زموږ دهیواد تکړه شاعراو لیکوال ښاغلي جنرال عبدالصمد مومند، په خپله یوه لیکنه کې د حاجي صاحب عبدالهاشم د ادبي شخصیت او شاعرۍ په اړه داسې کښلي دي:

(... ښاغلی حاجي عبدالهاشم دولت زی صاحب هم یو د دغو څخه دی چې په دې توده ځمکه یې قدم ایښی دی. دی د پاکې عقیدې خاوند او یو مجاهد انسان دی د ښه او نیک برخورد او نرم مزاج لوړواخلاقو څښتن دی خو اصول یې ښه سخت او پوره پاخه دي او انحراف ترې نه کوي د روڼ تندي او مضبوتې حوصلې مالک خوش لباسه کم ګفتاره

روانه او عام فهمه شاعري کوي او شاعري يې د هغه د پاکواو سپيڅلو احساساتو او جذباتو ترجمانه ده....)

- دحاجي صاحب عبدالهاشم په شعرونو کې دتصوف په رڼا کې د اخلاقي او روحاني حالاتو او د خلکو وينتيا او پرمختيا په اړه د ده خيالونه اوآندونه په ډيره روانه، ساده، خوږه او شاعرانه ژبه په رينتيني توګه انځور شوي دي. دبيلګې په توګه يې دا لاندې څو شعره سره په ګډه لولو:

## دالله ورکړه

خدای چې ورکاندي و چاته خپل عزت

بل يې نشي ورکوی په هيڅ صورت

دا د خدای د خوا نه چا ته چې پيرزو شي

شرافت وي کرامت وي که قدرت

دا عطيه د خدای (ج) په شکر ساتل کيږي

لا زياتيږي د بنده په لوړ همت

دواړه کونو کې به لوړ مقام د ده وي

بر د هر چا په حرمت وي او په پت

زوال نه لري دايم وي هم قايم وي

هم ساتلی وي محفوظ په لوړ چت

نه دی بخل څوک په چا کړي چې دا ولی

عبادت په مقابل شته ورته ست

ای (هاشمه) ته هم خدای ته په سجده شه

ستا هم خدای سره شته برخه هم قسمت

کاکشال- پيښور (۱۹۹۹/۹/۲)

## خرقبا

خدايه ستا لطف او كرم په ما عطا كړې

دا زما مخه مخ په تا، دا ستا په ما كړې

عبادت ته دې توفيق كړې را په برخه

د شيطان لعين د څنګه مې جدا كړې

هر څه ټول د ستا په لاس دي ته مالک يې

چې راضي پرې ته شې ما ته يې ته راكړې

زه په خپل خير او شر نه پوهيږم خدايه

چې لازم ګڼې هغه ته مهيا كړې

زه به شم شكر ګزاره ستا د لطفه

چې ګناه مې وركه ته، ثواب سودا كړې

زما فكر ستا د ښو طرف ته بوزې

خيال وزرونه مې ستا لور ته په هوا كړې

بې باكي له هر مرضه لوى مرض دى

دې مرض ته مې دستا كرم دوا كړې

كه فاخر خلک كړي فخر په زرپوشو

ما (هاشم) په ستر پټ، په خرقبا كړې

مسلم آباد- پيښور(۱۹۹۷/۱۲/۲۵)

## دعا

لاس په دعا ولاړ يو تاته

هيله مو نشته ده بل چا ته

د آخرت پېټى مو دروند دى

ستړي ستومان په لار يو پاته

د ستا کمک ته احتیاج یو

ای پاکه ربه لویه ذاته

لاس مو درنیسه ته مهربان یې

لږ مو نژدې کړه خپلې خواته

....

مسلم آباد- پیښور (۱۹۹۷/۱۱/۱۶)

# مناجات

هر ویښته مو ثنا خوان د ستا د حمد کړې

ټول وجود مو تا ته وقف او هیله مند کړې

تا ته ټول مخلوق په  حمد دي ته محمود یې

موږه هم د دې حلقې په لومو بند کړې

لکه څنګه چې لایق د ستا د شان وي

پیرزوینه په موږ وکړې موږ پسند کړې

شرافت او کرامت زموږ نصیب کې

ستا په یاد مو د خولو خوند لکه د قند کړې

....

مسلم آباد- پیښور(۱۹۹۸/۱/۲۳)

# غم د آخرت خوره

چې د چا شي نوم په نیکو باندې یاد

څه به غم خوري په رښتیني د اولاد

نه یې مال نه یې دولت وي ور په کار

ښه هغوی دي چې په ښو باندې وي ښاد

چا چې کور د ختو جوړ کړو هغه خام وي

پوخ هغه وي چې تهداب لري بنیاد

دا رښتیا چې د دنیا کورونه وران دي

دا خبره سي هم واوره په بنیاد

ته دې غم د آخرت خوره چې باقي دی

په دې قول به مې ضرورکړي اعتماد

پس له مرګه له هر کاره لاس خطا شي

که هر څو پسې ویر وکړې هم فریاد

د (هاشم) دشعر متن ته په ځیر شه

د قرآن، او دحدیث دی دا ارشاد

پیښور - پښتونخوا (۱۹۹۸/۱۱/۲۹)

ـ د ده په شعرونو کې دخپل هیواد اود هیوادوالو د بدو اوتراژیکو خاطراتو، پاک او سپیڅلي او ملي ولولې او جذبې، له خلکو سره انساني مینه او خواخوږي له ورایه راڅرګندیږي.دبیلګې په توګه یې دا شعرونه لولو:

# د غم فضا

څه دغم فضا ده په کابل کې لور تر لوره

لوی واړه ژړا کا دي مجبور وزي له کوره

ټول دي سرسام شوي د ټک لوري ترینه ورک دي

مور یې بچیان پریښي پښبیلي پښې په سر سرتوره

د پلار مړی یې پروت دی په سرک کې بې ځښتنه

نشته څوک په کور کې چې یې پورته کړي تر کوره

عقل د چا کار نکړي چې داسي صحنې ویني

غړ به د چا وانه وړي د ډزو زوږ له شوره

څه دي څه بلا ده په دوی شوې، لیونیان شول

یو دبل دښمن شول، بیزار شوی ورور له وروره

چور چپاو تالان دی، بده ورځ ده بازخواست نشته

شر فساد جوړ شوی هر سړی تښتي له زوره

ما (هاشم) لیدل چې چار چاپېره او د غرو څوکو

توپ ټوپک ګولۍ دي او خوښي نه شته ده نوره

دریمه کارته کابل (۱۱/ ۱۳۷۵/۲)

## دګاونډ خندا

په سرو وینو کې کابل ولې لمبیږي

زلزله ده که زخمي زړه مې درزیږي

هر طرف ته ګورم توپې دي راخلاصې

معلوم نه دی چې دچا په سر لګیږي

هم لونا او اورګان دي چې ویشتل کا

طیارې دي په هوا کې پرې غړمبیږي

دا حساب نه دی معلوم چې څوک یې ولي

هره سمته چې راځي خو پرې رالویږي

عالمونه، عالمونه قتل عام شول

دوی لا نور هم په ډیر قتل خوشحالیږي

چې پوښتنه د چا وشي د چا جنګ دی

وایي ورور راپاځي ورور سره جنګیږي

نه پوهیږو د دوی څه شی نا تقسیم دي

معلوم دار چې په تقسيم يې نه جوړيږي

ډالر سر دی، سلاح سر دی، بلا سر دی

حريصان لکه ليوان دي نه مړيږي

....

پېښور(۹۸/۱۱/۱۹)

## قتليږو

څه حالات مو د وطن شول پرې شرمېږو

په رنو سترګو يې ګورو چې غرقيږو

نصيحت دچا په هيچا اثر نه کا

چې دا حال وي نو به څه رنګ هوسېږو

څوک په زجر څوک په هجر رانه ورک شول

موږ په هر صورت دې دواړو ته زوريږو

خدايه مکړې چې يو مخ تباه شو

ترقي رانه شوه پاتې روستو کيږو

په موږ تېره شوه تېريږي څه به وينو

بدې ورځې ته چې ګورو موږ درديږو

تېره تېره شوه د خپله لاسه ورانه

نا معلومه مو راتلونکي ده وېريږو

هر سړی په توره تېښته ترې روان دی

دبل در کې نوکري کوو درېږو

د(هاشم) په زړه دا کله هواريږي

تدريجي مرګمو راغلی دی قتليږو

کاکشال – پیښور (۱۳۷۷/۱۱/۱۶)

# د وطن سوز

وطنه ستا د تورو غرونو نه جار

وطنه ستا د غرو رغونو نه جا

وطنه ستا سترو سیدونو نه جار

وطنه ستا د ګړنګونو نه جار

زه به دچا ډنګی مانی او لوړ قصرونه څه کړم

زه به دچا بحر غاړې او پارکونه څه کړم

زه به دچا د ریل پټلی او جهازونه څه کړم

زه به دچا د ترقیو کاروانونه څه کړم

ماته په کار د خپل وطن دي خړ ډاګونه په کار

ماته په کارد خپل وطن دي وران ښارونه په کار

ماته په کارد خپل وطن دي ارمانونه په کار

ماته په کارد خپل وطن دي درمانونه په کار

راځئ چې اوس ژوندون د سره پیل کړو

وخت دلاس ورنکړو وطن ته میل کړو

څو به دبل د ودانیو سیل کړو

د وطن مینه خپل هدف او نیل کړو

شاړې ودانې کړو دسره په کار

وکړو د ځانه دا یو ښه ابتکار

څو به دبل د لاسه غواړو تیار

دا خپل وطن به په خپل لاس کړو تیار

....

- ده په خپلو شعرونو کې د وطن او د کړيدلوخلکو کړکيچن حالات، ناخوالې، کړاوونه، ستونزې او دکډوالۍ او پرديسی شپې او ورځې په ډيرښکلي خيالونو او فکرونو کې انځورشوي دي. دبيلګې په توګه يې دا شعرونه ګورو:

# د وطن غميزه

چې حرم مو د وطن راته ماتم شو

هره خوا ځمکه سما راته تورتم شو

په ځان يوه نه شوو چې کومه لار شوه غوره

په هر لور چې د چا مخه شوه پرې سم شو

توره تېښته وه يو بل ته ستانه نه شوو

هر يو هرې خوا چې پاتې شو په غم شو

بې خوندي شوه خوند يې لاړو هجرت نه شو

بيخ بنياد مو پرې راوخوت راته بم شو

دعزت په خوان چې ناسته وه هغه نشته

جيره خوار شو سرمو هر چاته راخم شو

خجالت يو يو دبل نه موږ شرميږو

شپې او ورځې په دارنګ راته الم شو

د (هاشم) په زړه پولي دغم راخيژي

راته ښکاري باقي عمر په دا چم شو

کاکشال، پيښور (۱۹۹۹/۸/۲۸)

# دردېدلي زړونه

دردېدلي زړونه ولې دردوی

دا خوړلن اورونه ولې ښوروی

زه وېرېږمه چې اور به دې تن واخلي

ته چې لاس د ژوبلو زړونو ته وروړې

دیتیم دزړه آزار به دې آزار کړي

چې سکروټې یې په زړونو وروې

تا ویشتل د ویشتو زړونو څه لیدلي

چې دلاسه یې لا نور هم زوروې

دا یې بس نه دي تر اوسه چې کړېږي

چې کلمې یې لا په غنو خوروې

لاس ترې واخله په کړاو یې خوښي مکړه

بوږنیدلي زړونه ولې بوږنوې

اې (هاشمه) چې مراد دزړه حاصل کړې

زخمي زړونه به په ښه خلق ښه کوې

کاکشال- پیښور (۱۳۷۸/۱/۲۳)

# د وطن ساتنه

ځورومې دوطن غم اودردونه

ځکه اوښکې مې په مخ راځي رودونه

شا مې ورته کړه ترې راغلم بې پروا شوم

د ده مخ ته مې وروشیندل ګردونه

اوس که ویر کړمه بې ځایه څه فایده ده

ځګرخون یم زړه د سرو وینو ډندونه

هر خبر چې اورم تل ورانه ورانې وي

اوبه واوښتې له ورخه وړي بندونه

ملامته پدې کار زه د هر چا شوم

چې مې نکړل په اول کې دا فکرونه

د وطن ساتنه فرض ده ما ونکړه

لاس تر زنې اوس ولاړ يم زيړه ګونه

دهجرت شپې مې چې سود ګڼلې غم شوې

نه مې پت شته نه مې ست شته نه مې خونه

قهرمان د زمانې وم دوران سازوم

اوس دبل په ور کې خواست کوم عرضونه

د افغان په نوم په ټول جهان حقير شوم

په هر ځای کې شوم پاندې وړمه پندونه

ښه پوهېږم چې دا ولې داسې وشوه

اې (هاشمه) چې تا نه منل پندونه

پښتونخوا (۱۹۹۸/۲/۲۴)

- د ده په شعرونو کې ښايسته اوپه زړه پورى لوړ خيالونه او ژور اندونه په خورا ښکلي او ظريفانه انداز سره پيېل شوي دي. د بيلګې په توګه يې دا شعرونه لولو:

# د مور مقام

مورې نه وم پوهيدلی ستا په قدر

ستا ترخنګ مې هره شپه وه شپه د قدر

په لولو، لولو، دې خوب ته هڅولم

په شپو شپو مې خوا کې ناسته وې تر فجر

چې شاهد د بيدارې د ستا د شپو وه

نه شته ستوري نه هغه سپوږمۍ د بدر

اوس چې ته په خوب ویده یې زه په ویښه

دسپیرو خاورو په خوا کې ستا د قبر

ټول بدن مې ریږد اخیستی نه پوهیږم

بې صبري ته ځان تیار کړم یا شم صبر

بل څه نه لرم تحفه بې له دعا نه

یا څو اوښکې چې نثار کړم تا له نذر

جنتونه دې نصیب شه ادې مورې

خدای دې درکاندي عالي مقام د صدر

زه (هاشم) دې په اکرام لاس په تعظیم یم

لټوم دستا په قدر کې خپل قدر

مسلم آباد- پیښور(۱۹۹۷/۵/۱۵)

# لکه شمعه

که خندا غوارې ژړا کړه لکه شمعه

ځان کړه ویلې زړه رڼا کړه لکه شمعه

که یاران غوارې خوشحاله په محفل کې

خوله خندا په بې ریا کړه لکه شمعه

که ایثار دچا نه غوارې ځان ایثار کړه

په سره اور کې مشغلا کړه لکه شمعه

په رښتیا که خدمتګار دخپل ټولې یې

په ولاړه شپه سبا که لکه شمعه

ترمې ترمې اوښکې غورځوه څکر ته

زړه په سرو اوښکو صفا کړه لکه شمعه

اور دې واچوه هستۍ ته بیا رهبر شه

تیارې وڅیره ځلا کړه لکه شمعه

په سره ژبه دې دشمن ته ځواب ورکړه

دوست په مخکې رهنما شه لکه شمعه

اې (هاشمه) دا دخولې خبرې نه دي

په عمل کې ځان فدا کړه لکه شمعه

دا شعر حاجي صاحب عبدالهاشم پر (۱۳۵۰)ل. کال د شهید موسی شفیق لپاره د دیارلسمي دورې ولسي جرګې د باور رای په بهیر کې اورولې دی.

او یا دا څو نورې خوندورې ټوټې :

# دریغه دریغه

دریغه دریغه چې تیریږي زما عمر

( د اوبو په شان بهیږي زما عمر)

هلک توب او ځواني تیره شوه په منده

اوس دوه کم اویا چلیږي زما عمر

څه مې نشته ده په لاس کې څه به یوسم

په افلاس داسې تیریږي زما عمر

ثمره مې دټول عمر یو اخلاص دی

په هغه باندې ویاړیږي زما عمر

هسې خوشې له ما تیر شو ولې تیر شو

نور په ما باندې شرمیږي زما عمر

آخر عمر دی توفیق راکړې خاونده

ایمان یوسم بیا ختمېږي زما عمر

خفه نه یم چې مې عمر پوخ تعمیر دی!!

که نن نشوه سبا لوېږي زما عمر

دا دیوال دخامو خښتو دی (هاشمه)

خښته خښته ترې رالوېږي زما عمر

مسلم آباد- پېښور (۱۹۹۹/۱۰/۱۳)

# مقام د شعر

ځومره ښکلی دی اوچت مقام دشعر

ما لیدلي ده سپوږمۍ په بام دشعر

ځومره پورته چې سپوږمۍ ځي شعر هم ځي

ګیره شوې ده سپوږمۍ په دام دشعر

هره کرښه کې یې سیند دمعني پروت دی

هسې تګ کړي سمندر ارام دشعر

په جمله جمله یې زړه د شاعر درد کړي

چې یې څکلې وینې سرې په جام دشعر

ځوروي مې ځنې خلک کوتاه بینه

چې ناقص ګڼي جمله کلام دشعر

....

مسلم آباد- پېښور (۱۳۷۷/۱۱/۱۱)

# افلاک

هر سړی په خپل عمل کې د خپل واک دی

متقي دی که شقي دی که بې باک دی

خدای يې پوه کاندي په ښو او بدو لارو

که دی ښه کړي که خراب د ده ادراک دی

د ښو ښه د بدو بده نتيجه وي

د هر کار ملاک په خپله کار ملاک دی

هر انسان د خپل جوړښت پوره معمار دی

د ده فهم اراده او د ده ځواک دی

دی کولی شي چې خپله لار کړي غوره

دا انسان دی نن ختلی تر افلاک دی

....

کاکشال- پېښور (۱۹۹۹/۴/۲۲)

# لرې برې پرګنې

لرې برې پرګنې دي سره ورونه

بېلوی يې نشي غرونه ګړنګونه

(د آمو نه تر اټکه افغان يو دی)

په تاريخ کې پرې شاهد دي کتابونه

دهرات تر پېښوره فرهنګ يو دی

هځه ونکی ثقافت او دماغونه

د پېړيو په اوږدو کې سره يو يو

چېرې فرق شي دافغان او دپښتونه

فرق مو نشي دځېرو او درنګونو

د سکي يو دوه اړخونه دوه مخونه

په یوه رسۍ مو لاس سره دی ایښی

اتفاق مو همیش یو دی قوتونه

دین مذهب مو سره یو او کلچر یو دی

سره تینګ مو په اسلام دي پیوندونه

....

پیښور - پښتونخوا (۱۹۹۹/۹/۱۰)

# رانجه د مینې

په سترګو پورې کړه رانجه دمینې

هر چاته ګوره په کاته دمینې

بیا به دې زړه کې دهر چا مینه وي

درته هر څه به وي پراته دمینې

بازار دمینې کې مطاع که غواړې

در ته عرضه به وي هر څه دمینې

که هسې ګرځې هر طرف ته ګورې

هرڅه خواږه ګورې پاسته دمینې

مینه چې زړه کې چا ته ځای ونیسي

په زړه خواږه د خولې خواږه د مینې

هغه دهر چا په خوله خوږ لګیږي

چې ورته راشي په راتله د مینې

(هاشم) به هیڅ کله دریغ نکړي ترې سر

که یې حلال کړي په چاړه د مینې

مسلم آباد- پیښور (۱۳۷۸/۷/۱)

# لوړ درشل

دا جهان په شان د بڼ دی موږ یې ګل یو

څوک نرګس یو، څوک ګلاب او څوک سنبل یو

دا چې څوک د چا خوښېږي بیل سوال دی

موږه خپل یو جاروتلی یو تر بل یو

بوټی بیل دی ، بوی یې بیل دی، رنګ یې بیل دی

بیل اعضا یو په داخل دیو ګوګل یو

یو هدف لرو مرام او زړه مو یو دی

د نیکونو دا میراث دی داسې تل یو

د دښمن په دسیسو موږ نه غولېږو

د وحدت لاس مو یو کړی ګوتی شل یو

ځان ځاني مو داسې نه چې فکر نه کړو

په جرګو کې نظر بیل بیل، جمله سل یو

عنعنې مو په تاریخ کې فصل او باب دی

لوړ همت لرو میرونه د مرچل یو

د (هاشم) فکر او قلم یې وړ مثال دی

ادیبان لرو پوهان د لوړ درشل یو

ایبک ــ سمنګان ( ۱۳۴۳/۶/۱۳)

# زلفي عنبري

ناڅاپه په مخ راغله خورې زلفي عنبري

د خیاله را روانه لکه زرکه د دري

سپوږمۍ يې د مخ پټه وه په وريځو کې د زلفو
دا هسکه نرۍ غاړه سپينې ليچې مرمري
ويښتل يې کړل په زړونو بې پروا غونډې مغروره
کنجک ورو ځي ليندې وي کړبانه يې خنجري
مسکا يې په سرو شونډو کې د ورايه مسيدله
دغاشو يې بريښنا وه لکه ستوري مشتري
دسترګو په کاسو کې يې دوه سترګې لا بل شی وې
خوشحاله توري سترګې لکه سترګې د وري
د مخ په اننګو کې يې منې دسمرقند وې
دزنې سر يې ناک وه يا وه ګوړه شکري
ښايست نهورته نه کتل کيده په ړدو سترګو
نرۍ شونډې نازکې لکه ګل د عنطري
ققفاز د غرو هوسۍ وه پورته پورته غورزيدله
تر څو چې ښکاريدله تريدله اوتري
په ځير شوم زه (هاشم) ورته د نازه په نخرو تله
ادا يې هر قدم کې ګل اندامه شاه پري
باکو- آزربايجان (۱۹۹۴/۴/۲۰)

# مين فقير

په تندي دې ټيک د زرو ځړولی
د مين فقير دې زړه دی هسې وړی
ډار اخيستی زغرد کتلی درته نشي

د پیکي لاندې دې خال دی ورته غلی
کله سم کله ناسم په غلا یې ګوري
شونډې لاندې شینکي خال دې وېرولی
کله لرې نه په ځیر شي ورته ګوري
پرک اخستی ټول رپېږي دا مور مړی
کله ځان ته جرات ورکړي وردانګم
وایي پریده چې څوک یوسي زما مړی
بیا د ځان سره چرتي شي پښې یې رېږدي
قدم نه اخلي شي بې حسه یې هر غړی
تردد ورته پیدا شي بې تصمیمه
غلی ناست وي زېړه ګونه روح وژلی
خدایه ته ورسره مل شې خوار زبون دی
په ټول عمر یې ارمان نه دی ختلی
د (هاشم) سره احساس په هڅېدو شي
وایي کاش مې داسې حال نه وی لیدلی
کاکشال- پېښور (۱۹۹۹/۹/۱۲)

# مینه لباسي شوه

مینه لباسي شوه وفا نشته ده
زړونه دي تور شوي صفا نشته ده
نشته لاربښوونه لاس نیوی دچا
توره تروږمی ده رڼا نشته ده

هر سړی کوهي کني په لاره کې

چل فريب دغا ده ربنتيا نشته ده

هک او پک حيران يمه دې کار ته زه

هر لور ناروا ده روا نشته ده

سترګو ته ورترپلي د جاموسره

شرم به په څه کړي حيا نشته ده

هر يو په تلاش دی ټولول کوي

ټول وايي زما ده د ستا نشته ده

خير او برکت به نو په څه کې وي

حرص په سر اختني بسيا نشته ده

ټوله غلطي ده سازشونه دي

ورانه دا دنيا ده، دنيا نشته ده

اې (هاشمه) څه چې ترينه کډه کړو

دې تورتم کې مو شپې دي سبا نشته ده

کاکشال- پيښور (۱۵/۱۰/۱۹۹۸)

# څلوريزه

چې مې وطن باندې خزان ولګېد

زما په زړه باندې طوفان ولګېد

دغه طوفان څومره بدمرغه راغی

يو په ما نه په ټول جهان ولګېد

****

# ځلوریزه

وطن مو وران کړو د اغیارو په خوله

د څو خونکارو څو غدارو په خوله

اوس خجالت او ځوړند سرپاتي یو

د څو لوټ مارو څو خود چارو په خوله

حاجي صاحب عبدالهاشم پر پښتو سر بېره دري- پارسي شعرونه هم لیکلي دي.

د ده شعري ټولګه، چې د (د هیلو بهیر) په نوم یادیږي، د ښاغلي حاجي عبدالودود خان دولت زی چې د نوموړي هڅوونکي وو ، او د ښاغلي اسدالله صافي د دانش کتابتون مشر په مرسته د چاپ په ګاڼه ګاڼل شوی، اواستاد محمد آصف صمیم، منلي شهرت ننګیال او جنرال عبدالصمد مومند پرې سریزې لیکلي دي.

ارواښاد عبدالهاشم دولت زی د ډېر ساده مزاج، درنو کړو وړو، ښو اخلاقو، پاک او سپیڅلواوصافواو دنیکو خصایلو څښتن وو. دی یو مات مخی، بې کبره، زړه سواند او پاک زړی انسان وو.

دغې ولسي شاعراو قومي مخور پر (۲۰۰۰)ز. کال دفبروري میاشتې پر یوولسم (۱۱)، په پېښور کې له دې نړۍ څخه د تل لپاره سترګې پټې کړې. او په کابل کې په ډیردرنښت سره خاورو ته وسپارل شو.

# اروایې ښاده او یاد د یې تل ژوندی وي

په ټوله پښتنې- افغاني او شاعرانه مینه : انجنیرعبدالقادرمسعود